Australian Government

COVID-19 VACCINATION

# د COVID-19 واکسینونو په اړه د ماشومانو سره څرنګه خبرې وکړئ

وروستی ځل تازه شوی: 8 اګست 2022

د 6 میاشتو څخه تر 4 کلونو پورې د ځینو ماشومانو لپاره هم د واکسین کولو سپارښتنه کیږي چې په شدید ډول د معافیت ضعیف سیستم لري، یا معیوبیت ولري، او همدارنګه هغه کسان چې پیچلي او/یا ډیر روغتیایي شرایط لري چې د دوی د COVID-19 شدید خطر زیاتوي. دا طبیعي ده چې ستاسو ماشوم لیواله وي او د COVID-19 واکسینونو په اړه ډیری پوښتنې ولري. دلته د واکسین ترلاسه کولو دمخه او وروسته له ماشومانو سره د خبرو کولو لپاره ځینې لارښوونې دي.

دا مهمه ده چې د **روغتیا او د زړو د پاملرنې وزارت په ویب پاڼه** کې موجود وروستي طبي مشورې سره تازه اوسئ.

همدا راز تاسو کولی شئ چې د COVID-19 واکسین په اړه کومې اندیښنې یا پوښتنې هم ولرئ مخکې له دې چې ستاسو ماشوم واکسین ترلاسه کړي د خپل واکسین چمتو کونکي یا ډاکټر سره خبرې وکړئ.

دا مهمه ده چې د دوی ځوابونه واورئ او د واکسین کولو په اړه یې هر ډول ویره ومني.

- ما ته ووایاست چې تاسو تر اوسه د COVID-19 واکسین په اړه څه پوهیږئ.
- ایا تاسو مخکې هم واکسین کړی دی؟

دا امکان لري چې ستاسو ماشوم مخکې واکسین کړی وي او ممکن دومره بد به هم نه وي.

په صادقانه توګه او د عمر سره سم هغه څه تشریح کړئ چې تاسو د COVID-19 واکسین په اړه پوهیږئ.

په یاد ولرئ چې ماشومان له لویانو څخه احساسات درک کوي، نو د ویره ډیر شریکول ممکن ښه نه وي او ممکن ستاسو ماشوم د نارامۍ احساس وکړي.

د دې وضاحت وکړې چې ډاکټر یا طبي مسلکي به ستاسو له ماشوم څخه ځینې پوښتنې وکړي، دا چې ستاسو ماشوم به د دوی په مروند کې ستنه ترلاسه کړي (یا زنګون کې که دوی له 6 میاشتو څخه د 5 کلونو کم همر ولري) دوی به یو کوچنی ټکان احساس کړي چیرته چې ستنه ننوځي او ښایي وروسته لږ خوږ ولري. خپل ماشوم ته د دې په ویلو سره ډاډ ورکړئ چې دا معمول دی چې یو څه خوږ ولري چیرې چې ستنه دننه شي، او دا پدې مانا ده چې درمل کار کوي.

که ستاسو ماشوم د واکسین کولو په اړه اندیښمن ښکاري، هڅه وکړئ د دوی احساسات نور هم وڅیړئ یا د اړتیا په صورت کې د خپل ډاکټر څخه نوره مشوره وغواړئ.

## د خپل ماشوم پوښتنو ته ځواب ووایي

د خپل ماشوم د هرې پوښتنې لپاره چې ممکن ولې لري، د اساني پوهاوي لپاره ځیني ځوابونه چمتو کړئ. دلته ځینې مهمې پوښتنې او ځوابونه دي چې ممکن پدې خبرو کې مرسته وکړي:

رښتیني مثالونه وکاروئ، لکه د ماشوم د انا او بابا د خوندیتوب، او د دې توان درلودب چې هغه شیان ترسره کړئ لکه ښوونځي ته تلل او د ټیم سپورت کې برخه اخستل که تاسو فکر کوئ چې دا به مرسته وکړي.

په آسټرالیا کې، دوی د یوې اداري لخوا په بشپړ ډول ازمول شوي چې ډاډ ترلاسه کوي چې ټول درمل خوندي دي. دوی به خلکو ته نه ورکول کیږي که دوی خوندي نه وي.

که ستاسو ماشوم د ستنو څخه ویره ولري، اغیزمن چمتووالی او د پام اړولو تخنیکونه مهم دي.

د 5 کلنو او تر هغه پورته عمر لرونکیو ماشومانو لپاره، دا ممکن مرسته وکړي چې یو کوچني، ډیر پیژندل شوي ځای کې ګډون وکړي، لکه سیمه ایز درملتون یا عمومي معاینه خانه. د واکسین کولو ډیر پراخ ځایونه کیدای شي لوړ غږ او بیروبار وي چې اضطراب زیات کړي.

د خپل ماشوم د خوښې وړ لوبې شیان یا کتابونه له ځانه سره راوړئ ترڅو مثبت تجربه او پام یې واړوي.

خپل چمتو کونکي ته مخکې له مخکې خبر ورکړئ که ستاسو ماشوم د ستنو څخه ویره ولري نو دوی کولی شي کافي وخت وټاکي او ډاډ ترلاسه کړي چې پروسه بیړنۍ یا جبري نه وي.

تاسو کولی شئ د واکسین په اړه د نورو مالوماتو لپاره د روغتیا او د زړو د پاملرنې وزارت ویب پاڼې ته www.health.gov.au مراجعه وکړي.

تاسو کولی شئ د National Coronavirus او COVID-19 Vaccine Helpline ته په **1800 020 080** زنګ ووهئ. د وړیا ترجمانۍ خدماتو لپاره 8 اختیارونې ته فشار ورکړئ.

که تاسو کاڼه یاست، یا د اوریدلو یا د غږیدلو ستونزه لري، تاسو کولی شئ د ملي ریلې خدماتو ته په **133 677** ته زنګ ووهئ.